مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲/۰۹/۳۰

# د اقبال د یوه کلام ژباړه

د علامه اقبال دغه کلام مې وژباړه. دا په شعر ژباړه لا ښومره سخته وي:

زور د مغرب، د چنګ رباب په نوا کې نه دی
د لوڅو نجونو په ګډا او په نڅا کې نه دی

نه په جادو د لاله مخو ساحرانو کې دی
نه، لوڅو پنډیو کې دی نه لنډو زلفانو کې دی

غښتلتیا یې مونده نشي لا دیني کې
روښنایي یې نه په خط لاتیني کې

د مغرب تمام قوت علم او فن دی
له دې اوره یې د بخت څراغ روښن دی

علم و فن لپاره ای مستو ځوانانو!
مغز په کار دی، نه لباس د فرنګیانو





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ